عمومي اسامبله
امنیت شورا

خپریدل: عمومي
۷ دسمبر ۲۰۲۲
اصل: انګلیسي

عمومي اسامبله
اووه اویایمه ناسته
د اجنډا ۳۴ ماده
په افغانستان کې وضعیت

د امنیت شورا
اووه اویایم کال

# په افغانستان کې وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت یې اغیزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی: پیژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پریکړې لیک او د امنیت شورا ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پریکړه لیک پر بنسټ ترتیب شوي په کوم کې چې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و چې په هرو دریو میاشتو کې، د ملې کچې په ګډون، په افغانستان کې د وضعیت او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د ماموریت د تطبیق په اړه راپور ورکړي.

۲. د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د ۱۴ نېټې د راپور (A/77/340-S/2022/692) له خپرېدو راهیسې دغه راپور د سیاسي، بشري، او د بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

### دویم: اړوند تحولات

۳. د طالبانو برحاله چارواکو د وزیرانو د کچې بدلونونه اعلان کړل او د ادارو بدلول او جوړول یې جاري ساتلي، په داسې حال کې چې د طالبانو مشر هبت الله اخندزاده په دې برخه کې پرېکنده رول لوبوي. په ورته وخت کې، دوې ځایي ټولنو او غیر طالبان فعالینو ته رسېدنه چټکه کړې. په وسله وال اپوزسیون او د عراق او شام په اسلامي دولت پورې تړلو امنیتي پېښو دوام درلود. یوناما د طالبانو له خوا په ۲۰۲۱ کې د واک د ترلاسه کولو سره سم د اعلان شوې عمومي بخښنې څخه د سرغړونې او له وسله وال اپوزسیون سره د نښتو په سیاق کې د بشري حقونو د تیریو او سرغړونو د باوري ادعاوو ترلاسه کول جاري ساتلي. د افغانانو بنسټیز حقونه او آزادي ګانې په سخت ډول محدود پاتې دي په تېره بیا د ښځو او نجونو لپاره څوک چې د زده کړو، په عامه ژوند کې د ګډون او خدمتونو ته د لاسرسي حقونو په برخه کې له دوامدارو محدودیتونو سره مخ دي. د طالبانو له خوا د سترو اقتصادي موضوعاتو په اړه د ځینو مثبتو تحولاتو په اړه د راپورونو سره سره عمومي اقتصادي وضعیت لا اوس هم د ژورې اندېښنې وړ ګڼل کیږي. څرنګه چې ژمی په رارسېدو دی، بشري اړتیاوې به لا پسې لوړې شي. له بشري مرستې ها خوا، ملګرو ملتونو د افغانستان لپاره د مرستې د نوي جوړښت عملیاتي کول جاري ساتلي او د ځانګړو شرایطو لپاره یې یو درې کلن ستراتیژیک کاري چوکاټ طرح کړی.

#### الف. سیاسي تحولات

۴.	برحاله چارواکو لا تر اوسه پر سیاسي او حقوقي سیستم دوامدارو مبهمو محدودیتونو ته رسیدګي نه ده کړې، سره له دې چې د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد په اکتوبر کې په ډاګه کړې وه چې د نوي اساسي قانون پر جوړولو کار روان دی. د راپور ورکولو په موده کې له شپږم ټولګي پورته زده کړو ته د نجونو د لاسرسي یا د ټولشموله حکومتولۍ د جوړښتونو په اړه کوم پرمختګ نه دی تر سترګو شوی.

۵.	د طالبانو مشر هبة الله اخندزاده په زیاتېدونکي ډول ځان د پرېکړه کوونکي په توګه مطرح کړی او ډېری وختونه له برحاله کابینې څخه بهر د سلاکارانو د یوې کوچنۍ ډلې پر سلا مشورو تکیه کوي. له دې سره سره هغه همدارنګه په کندهار کې د سپتمبر په نیمه یې او د اکتوبر او نومبر په لومړیو کې په کابل کې د میشتې کابینې له غړو سره پراخې سلا مشورې ترسره کړې. که څه هم پالیسي جوړونه په زیاتېدونکې توګه رسمي ښکاري، په کابل کې د برحاله کابینې غونډې معمولا پر تطبیق او اداري پروسو او ډېرو ستراتیژیکو پرېکړو متمرکزې وي. د لوړې کچې ګمارنې معمولا د حکمونو له لارې صادرېږي، داسې ښکاري چې ډېری هغه یې د کندهار له خوا ترسره کیږي. د برحاله چارواکو په د ننه کې لا تر اوسه په رسمي ډول د پرېکړه کولو نقشونو د معرفي کولو په پار هیڅ اقدام نه دی ترسره شوی، کوم چې د طالبانو له خپل وصف سره سم په مؤقت ډول چارې پرمخ وړي.

۶.	د وزیرانو د کچې په دریو ګمارنو سره برحاله کابینه کې بدلون رامنځ ته شو: چې د اګست پر ۲۰ نېټه عطاء الله عمري (د کرونې، اوبو لګول او مالدارۍ وزیر)، د سپتمبر پر ۲۱ نېټه حبیب الله آغا (د پوهنې وزیر) او د اکتوبر پر ۱۷ نېټه ندا محمد ندیم (د لوړو زده کړو وزیر) په توګه وګمارل شول. په مجموع کې ټولټال ۷ برحاله غیر امنیتي مرستیال وزیران او دغه راز ۱۲ برحاله والیان بدل شوي. دغو ګمارنو د ښځو په حذف او د دیني او نظامي اعتبارونو په راڅرګندېدو پورې د اړوندو جریاناتو تعقیبول جاري ساتلي.

۷.	سیاسي اپوزسیون چې د پخواني جمهوریت له تبعید شویو چارواکو او سیاسي شخصیتونو جوړ دی، د ناستو ترسره کول او اعلامیو خپرول جاري ساتلي. د راپور ورکولو په موده کې دریو نورو ډول د خپل حضور اعلان وکړ. د سپتمبر د ۱۵ او ۱۷ نېټو ترمنځ د اپوزسیون یو شمېر غړو په ویانا کې سره ولیدل چیرې چې د سیاسي ډیالوګ لپاره ارجحیت په ډاګه شو. نورو هغو لکه د افغانستان د آزادۍ جبهې د سپتمبر پر ۱۸ او د ولسمشر پخواني مرستیال عبد الرشید دوستم د سپتمبر پر ۲۱ نېټه د وسله وال مقاومت غوښتنه وکړه.

۸.	د دغو تحولاتو په منځ کې، برحاله چارواکو په افغانستان کې له میشت سیاسي شخصیتونو سره خپل تعامل زیات کړی او د افغان شخصیتونو سره د اړیکو کمیسیون له لارې یې په بهر کې د میشتو افغانانو د راستنېدنې د جذب لپاره خپلې هڅې جاري ساتلي. لوړ پوړو برحاله چارواکو د جمهوریت دورې له شخصیتونو سره ولیدل، د اکتوبر په میاشت کې د پارلمان پخوانیو غړو چې ځینې یې بیرته راستانه شوي وو، پخوانیو سیاستوالو او د هغوي د ډلو په ګډون. د اکتوبر پر ۲۳ نېټه د کمیسیون ویاند احمدالله وثیق په ډاګه کړه چې کمیسیون به د راستانه شویو په ګډون د پخوانیو سیاسي نخبګانو په وړاندې ادعاوې وڅیړي.

۹.	شپږو شمال او شمال ختیځو ولایتونو ته د سرحدونو او قبایلو د چارو وزارت د سفر په ګډون په کابل کې د میشتو برحاله چارواکو له خوا په ولایتي لیدنو او د شخړو د حل له هڅو سره چې ډېری وخت په کې د قومي او دیني مشران شامل وي، په ځایي کچه له ټولنو سره تعامل زیات شوی. برحاله چارواکو په ننګرهار ولایت کې د دوو کورنیو ترمنځ د ۶۳ کلنې شخړې، په فراه ولایت کې د دوه پښتنو کورنیو ترمنځ د ۵ کلنې دښمنۍ، په تخار ولایت کې د بېرته راستانه شویو پښتنو او میشتو ازبکو او تاجکو ترمنځ د ځمکې پر سر شخړه او په هرات ولایت کې د دوه پښتون قبیلو ترمنځ د اوږدې مودې شخړې د حل خبر ورکړی.

۱۰. په عین وخت کې، برحاله چارواکو خبر ورکړی چې دوی د ښځینه ملکي مامورینو په ګډون چې اکثریت هغو ته یې د ۲۰۲۱ کال له اګست راهیسې کار ځای ته د تګ اجازه نه ورکول کیږي، د ملکي خدمت د معاشاتو تادیات جاري ساتلي. د اکتوبر تر ۳۰ پورې، ټولو ملکي مامورینو ته تر اګست او ډیری هغو ته یې تر سپتمبر پورې معاشونه ورکړل شوي وو، ځکه چې د معاشونو په پروسس کولو کې راپور شویو تخنیکي ننګونو د کم شمیر بودجې واحدونو لپاره د تادیاتو مخه نیولې وه. د اکتوبر پر ۲۰ نېټه د طالبانو مشر یو فرمان صادر کړ چې په اساس یې د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د بېرته راګرځولو کمیسیون تاسیس شو، کوم څه چې د شخړې یوه اوږدمهال سرچینه ګڼل کېږي. د اکتوبر پر ۱۹ نېټه تخار ولایت د ولایتي شورا له اضافه کولو وروسته، اوس مهال له ۳۴ ولایتونو په ۱۵ هغو کې دغه ډول جوړښتونه موجود دي. د کورنیو چارو وزارت د معین نور جلال جلالي په وینا، دغه ډول شوراګانې به په هر ولایت کې رامنځ ته شي چې یوه برخه به یې د ولایتي ادارو په اړه راپور ورکوي، او د طالبانو له مشر هبة الله اخندزاده سره به په مستقیمه اړیکه کې وي.

۱۱. د تطبیق وړ قوانینو په اړه د موجوده ابهام په اړه د اندېښنو سره سره د پخواني جمهوریت قضایي نظام او قانوني چوکاټ بدلون دوام درلود. د اګست پر ۲۱ نېټه برحاله لوی څارنوالۍ څارنوالانو ته لارښوونه وکړه چې روان تحقیقات برحاله محکمو ته ولیږدوي؛ د برحاله سترې محکمې اداري مرستیال یوناما ته خبر ورکړ چې قاضیان به هم د شرعي قانون له مخې تحقیقاتي دندې ترسره کوي. دغه اقدام په محکمو کې د قضیو د بوج د زیاتېدو او په قضایي اجراآتو کې د ځنډ لامل شو او له محاکمې مخکې د توقیف اوږدې مودې یې لا پسې زیاتې کړې. د بندیانو د نفوسو د زیاتوالي او په جون میاشت کې برحاله د زندانونو د چارو د سمون اداري د غوښتنې سره سم، د طالبانو مشر هبة الله اخندزاده د سپتمبر په وروستیو کې سترې محکمې ته لارښوونه وکړه چې د هر ولایت لپاره د قاضیانو هیئتونه وټاکي ترڅو له محاکمې څخه مخکې د بندیانو د قضیو په اړه غور ګړندی کړي. د نومبر پر ۱۳ نېټه د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد خبر ورکړ چې د طالبانو مشر له قاضیانو سره لیدلي او هغوی ته یې د دې یادونه کړې چې د "حدود" او "قصاص" سزاګانو تطبیقول حتمي دي کله چې یې د شریعت له مخې شرایط پوره شوي وي.

۱۲. مدافع وکیلانو ته د جوازونو صادرول جاري و او ښځې په دغې پروسې کې نه وې شاملې. برحاله د عدلیې وزارت خبر ورکړ چې د نومبر تر ۱۰ نېټې پورې له ۱۳۳۲ څخه ۱۲۷۵ وکیلانو شرایط پوره کړي او ۹۴۷ هغو یې نوي جوازونه ترلاسه کړي، په داسې حال کې چې د ۱۵۰۰ ښځینه وو په ګډون د شاو خوا ۶۰۰۰ مدافع وکیلان د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه پخوا په کار بوخت وو. د اکتوبر پر ۴ نېټه برحاله عدلیې وزارت د مدافع وکیلانو په کنفرانس کې چې ټاکل شوې وه د اکتوبر پر ۱۹ او ۲۰ ترسره شي، کوم چې بیا وروسته لغوه شو، د مدافع وکیلانو د اتحادیې د جوړولو په موخه پلانونه اعلان کړل. د برحاله عدلي چارواکو له معلوماتو سره سم، برحاله محکمو له ۱۳۰۰۰ څخه زیاتې قضیې اوریدلي او عدلي ریاست په ټول هیواد کې ۹۷۷۰۰ قضیې ترلاسه کړې چې ۲۳۳۹ هغه یې د ۲۰۲۱ له اګست راهیسې د برحاله محکمو له خوا حل و فصل شوي.

۱۳. د امنیتي بنسټونو نهادینه کېدل زیات شوي. د اګست په پای کې د حساب ورکولو غونډو په جریان کې، امنیتي وزارتونو راپور ورکړ چې ۱۵۰۰۰۰ د اردو ځواک او نږدې ۲۰۰۰۰۰ پولیس پرسونل استخدام شوي دي. برحاله د کورنیو چارو وزارت د کارمندانو د معاشاتو او پیژند پاڼو، او د کابل نړیوال هوایي ډګر د مهاجرت او د سفر د منع سیستمونو په ګډون د خپلو ټولو سیستمونو د بیا فعالولو خبر ورکړی. نوموړي وزارت دغه راز د ۷۰۰۰۰۰ پاسپورټونو د ویش خبر ورکړی سره له دې چې د پاسپورټونو د ویش بهیر د اکتوبر له ۸ نېټې راهیسې د سپینو پاسپورټونو د نشتون له امله ځنډیدلی.

۱۴. په اکتوبر کې یو شمېر امنیتي کمیسیونونه جوړ شوي، لکه د برحاله کورنیو چارو وزارت د نهو فرعي کمیټو لرونکی د اصلاحاتو کمیسیون چې هغه پرسونل اخراج کړي چې جنایي مخینې ولري او د نظامي رتبو کمیسیون چې د هر نظامي پرسونل "جهادي" او تعلیمي مخینې و ارزوي. سربېره پر دې، په برحاله امنیتي وزارتونو کې لږ تر لږه ۵۲ ګمارنې اعلان شوي، چې د څلور وزیر مرستیالانو، د هوایي ځواک یو نوی قوماندان، اوو د لواګانو قوماندانانو، او ۱۳ ولایتي امنیه قوماندانانو په ګډون زیاتره هغه یې د بدلون اړوند وې؛ د اکتوبر پر ۲۶ نېټه ۲۷ دفاعي ګمارنې ترسره شوې چې په تعقیب یې برحاله د دفاع وزیر یعقوب مجاهد له کندهار څخه لیدنه ترسره کړه.

۱۵. د راپور ورکولو په موده کې برحاله دفاع وزیر یعقوب مجاهد او برحاله لوی درستیز قاري فصیح الدین د وضعیت د ارزونې او په مسلکیتوب، قوماندې او کنټرول کې د ځایي ځواکونو د ګډون په پار له غوره شویو ولایتونو لېدنه ترسره کړه. د طالبانو مشر هبت الله اخندزاده په جلا ډول د برحاله استخباراتو لوي ریاست له ولایتي رئیسانو او دغه راز استخباراتي چارواکو، د لواګانو قوماندانانو او د برحاله دفاع وزارت کلیدي واحدونو ته وینا وکړه چې د اطاعت او صداقت پر اړتیا، د شریعت د تطبیق پر ملاتړ، د بندیانو په ګډون خلکو ته پر درناوي یې ټینګار وکړ. هغه ظاهرا د هغوي د شکایتونو د پوهېدو په پار د ناکراره بغلان او بدخشان ولایتونو له مشرانو سره هم ولیدل.

۱۶. د ملګرو ملتونو چارواکو او د یوناما مشرتابه له برحاله چارواکو سره خپل تعامل جاري ساتلی چې پر بنسټیزو حقونو او آزادي ګانو، په شمول د ښځو لپاره؛ ټولشموله، مشارکتي او ممثلي حکومتولی؛ او له تروریزم سره د مبارزې پر کوټلو ګامونو ټینګار کوي. په دې کې د یوناما د مشرتابه له خوا مختلفو ولایتونو لکه کندهار، کاپیسا، خوست، کندز او پکتیکا څخه لیدنې شاملې دي. یوناما د جوازونو د ویش په پروسه کې د ښځو د شمولیت او د ولایتي مدافع وکیلانو لپاره د لاسرسي د زیاتولو په موخه د اقداماتو په پار د مدافع وکیلانو د جوازونو پروسې د تمدید مدافعه او ملاتړ کړی. په سپتمبر کې، یوناما او د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام په بامیان او هرات ولایتونو کې د حقوقي مرستې ازمایښي پروژه پیل کړه چې تر دې دمه ورڅخه ۳۲۰ کسان مستفید شوي (د ۷۷ ښځو په ګډون). د ۲۰۲۲ کال په نومبر کې، نوموړي پروګرام د حقوقي مرستې د خدمتونو د برابرونې پروژه پیل کړه او مشورتي ورکشاپونه یې ترسره کړل څو په جنوبي ولایتونو کې مثبت دودیز عدلي عرفونه په ګوته کړي.

۱۷. یوناما په ټول هیواد کې د خپلو ساحوي دفترونو د حضور له لارې د سولې او پوهاوي د ځایي نوښتونو تطبیقول جاري ساتلي څو ټولنې د شخړو سوله ییز حل ته وهڅوي. په دې کې په نورستان ولایت کې د ځنګل د عوایدو پر سر د شخړې له حل سره مرسته، او دغه راز د اګست د ۲۰ او نومبر د ۱۰ نیټو ترمنځ په ۱۱ ولایتونو کې د یوناما په مشرۍ تعاملات شامل دي څو د برحاله چارواکو او مدني ټولنې د ډلو ترمنځ ډیالوګ او له ځایي ټولنو سره سلا مشورې وهڅوي او تسهیل کړي.

**ب. امنیت**

۱۸. د اګست د ۱۷ او نومبر د ۱۳ نېټو ترمنځ، ملګرو ملتونو د امنیت اړوند ۱۵۸۷ پېښې ثبت کړي، چې د ۲۰۲۱ کال په ورته موده کې د ثبت شویو ۱۲۹۱ پېښو په پرتله ۲۳ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. وسله والې نښتې له ۹۹ څخه ۱۲۶ ته ۲۷ سلنه؛ هوایي بریدونه له ۴ څخه ۵ ته ۲۵ سلنه؛ د لاس جوړ چاودېدونکو توکو چاودنې له ۷۴ څخه ۷۹ ته ۷ سلنه زیات شوي. وژنې له ۱۶۰ څخه ۷۵ ته په راکمېدو سره ۵۳ سلنه راټیټې شوي. لویدیځې، جنوبي او ختیځې سیمې د ټولو ثبت شویو پېښو ۵۲ سلنه جوړوي، چې کابل، هرات او کندهار تر ټولو زیات اغیزمن شوي ولایتونه ګڼل کېږي.

۱۹. د وسله وال اپوزسیون فعالیتونه زیات شوي. یوناما ۲۲ وسله والې ډلې ثبت کړې چې په ۱۱ ولایتونو کې د فعالیت ترسره کولو دعوه کوي. د ملي مقاومت جبهې او د آزادۍ ملي غورځنګ په بدخشان، بغلان، کاپیسا، ننګرهار، نورستان، تخار، پنجشیر او پروان ولایتونو کې د بریدونو ترسره کولو دعوه کړې. په داسې حال کې چې د ملي مقاومت جبهې خپل عملیات په ختیځو او شمال-ختیځو ولایتونو کې پراخ کړي، خو تر ټولو د پام وړ نښتې په پنجشیر کې رامنځ ته شوي چیرې چې د اګست پر ۲۰ نېټې د بغلان د اندراب درې او پنجشیر لپاره د نظامي قوماندان په توګه د ملا عبد القیوم ذاکر تر ګمارنې وروسته برحاله امنیتي ځواکونو د سپتمبر پر ۹ نېټه په یو شمیر ولسوالیو کې یرغلیز بریدونه ترسره کړل. د اکتوبر میاشتې په اړدو کې په پنجشیر، بدخشان او بغلان کې عملیاتو دوام درلود.

۲۰. د عراق او شام اسلامي دولت – خراسان ولایت ځانګې له خوا ترسره یا هغوي ته منسوب شوي بریدونه د ۲۰۲۱ کال په ورته موده کې په ۱۴ ولایتونو کې له ۱۲۱ بریدونو څخه اوس په شپږو ولایتونو کې ۳۰ بریدونو ته راکم شوي، که څه هم مرګ ژوبله د پام وړ پر خپل ځای پاتې ده. په ادعا شویو پېښو کې د سپتمبر پر ۵ نېټه د روسیې پر سفارت ځانمرګی برید؛ د اکتوبر پر ۷ نېټه په کندز ولایت کې په سکندر جومات کې چاودنه؛ او د لاس جوړ چاودېدونکو توکو چاودنې شاملې دي، د هغې په شمول چې د اکتوبر پر ۱۰ نېټه د لغمان ولایت په مهترلام ښار د برحاله امنیتي ځواکونو پر موټر ترسره شوه په کومه کې چې ۴۴ ولسي وګړي ټپي شول؛ او د اکتوبر پر ۲۷ نېټه په هرات ښار کې په بس کې چاودنه په کومه کې چې ۱۰ برحاله امنیتي ځواکونه ټپي یا وژل شوي.

۲۱. پر دیني اهدافو د یو شمېر لوړې کچې بریدونو مسؤولیت کوم لوري پر غاړه نه دی اخیستی، لکه د سپتمبر پر ۲ نېټه په هرات ښار کې په ګذرګاه جومات کې ځانمرګی برید په کوم کې چې د طالب پلوي عالم مجیب الرحمان انصاري په ګډون ۲۰ وګړي ووژل شول او ۲۲ نور ژوبل شول؛ د سپتمبر پر ۲۳ په کابل کې د لاس جوړ چاودېدونکو توکو چاودنه په کومه کې چې ۴ ولسي وګړي ووژل شول او ۵۲ نور ژوبل شول؛ او د اکتوبر پر ۵ د برحاله کورنیو چارو وزارت په انګړ کې په یوه جومات کې ځانمرګی برید په کوم کې چې ۹ وګړي وژل شوي او ۳۰ نور ژوبل شوي وو.

۲۲. د پولو په اوږدو کې کړکیچونو دوام درلود. د ۱۷ پېښو له جملې ۱۴ هغه یې د افغانستان او پاکستان سره پر پوله رامنځ ته شوي – د سپتمبر پر ۱۴ د پکتیا ولایت په ډنډ پټان سیمه کې، د اکتوبر پر ۱۹ او ۲۰ نېټه د کندهار ولایت په سپین بولدک ولسوالۍ کې د برحاله او پاکستان سرحدي ځواکونو ترمنځ د نښتو؛ او د افغانستان او ایران ترمنځ پر پوله د اکتوبر پر ۱۷ نېټه د نیمروز ولایت په پل آبریشم سیمه کې د نښتو په ګډون.

۲۳. د سپتمبر پر ۱۹ نېټه د بندیانو له تبادلې وروسته، د برحاله چارواکو او د امریکا د متحده ایالاتو استازو سره په دوحه کې د اکتوبر پر ۸ ولیدل، څو د راپورونو له مخې له تروریزم سره د مبارزې په تړاو خبرې اترې ترسره کړي. دا د جولای پر ۳۱ نېټې د القاعده د مشر ایمن الظواهري له وژنې راهیسې لومړۍ مستقیمه ناسته وه. په افغانستان او پاکستان کې د پاکستان تحریک طالبان د یو شمېر غړو د وژنو په منځ کې د پاکستان او تاجکستان په ګډون یو شمېر هیوادونو د هغه ګواښ په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړه چې له افغانستان څخه فعالیت کوونکې تروریستي ډلې یې رامنځ ته کوي. د سپتمبر پر ۱۴ نېټه، برحاله د بهرنیو چارو وزارت هغه راپورونه رد کړل چې ګواکې د جیش محمد مشر مسعود اظهر په افغانستان کې پناه غوښتې ده. د اګست پر ۲۸ نېټه، د افغانستان هوایي حریم ته د بې پیلوټه الوتکو او جنګي الوتکو د ننوتلو د راپورونو په زیاتېدو سره، رسنیو د دفاع وزیر یعقوب مجاهد په وینا متحده ایالات د افغانستان په خاوره کې د بې پیلوټه الوتکو په کارولو او پاکستان دغو الوتنو ته د اسانتیاوو په برابرولو تورن کړل.

۲۴.	یوناما د اړوندو ښکیلو اړخونو سره د کوچنیو او سپکو وسلو او چاودېدونکو توکو له ناقانونه سوداګرۍ د تراکم، زېرمې او انحراف سره د تړلو خطرونو په اړه خبرو اترو ته دوام ورکړ. د اګست د ۱۷ او نومبر د ۱۳ نېټو ترمنځ په ۱۹ ولایتونو کې د وسلو مستند شوې ۵۲ ضبطونې ترسره شوې. برحاله چارواکو پر خواله رسنیو د لږ تر لږه ۴۲ ضبطونه اعلان کړل، په داسې حال کې چې د دې تورونه شته چې د ضبط شویو موادو یوه برخه د انفرادي قوماندانانو له خوا د اقتصادي ګټې لپاره ساتل کېږي او پلورل کیږي.

۲۵.	د مرکزي کچې برحاله چارواکو خبر ورکړ چې دوي د وسلو د ثبت او هغوي د سوانح د ساتلو له لارې برحاله امنیتي پرسونل ته د وسلو د هویت کارتونو په ورکولو سره د خپلو ځواکونو وسلې او مهمات تنظیم کړي دي. د اکتوبر پر ۲۵ نېټه، د طالبانو مشر یو فرمان صادر کړ چې له طالبانو او وسلو له سوداګرو دې شخصي وسلې راغونډې شي او نظامي وسایل دې دولت ته وسپارل شي. برحاله چارواکو قانوني ملکي وسلو ته د جواز ورکولو او راجسټریشن په اړه خبر ورکړ، که څه هم پلي کول یې په ولایتونو کې توپیر لري.

۲۶.	د سیمې غړو هیوادونو هم له افغانستان څخه د وسلو د خپرېدو په اړه اندېښنې څرګندې کړې. یو شمېر سیمه ییزو پلاټفورمونو د دغې موضوع په خبرې اترې زیاتې کړي. پر غړو هیوادونو سربېره، یوناما د ملګرو ملتونو اړوندو ادارو، نړیوالو او سیمه‌ییزو سازمانونو او تخصصي نادولتي موسسو سره سلا مشورې ترسره کړې چې د دغو موضوعاتو په اړه د سیمه‌ییزو او نړیوالو هڅو د ملاتړ په اړه بحث وکړي.

۲۷.	ملګرو ملتونو د تهدید د ۲۳ قضیو، ۱۲ جنایي قضیو، ۴ نیونو او ۱۲ نورو هغو قضیو په ګډون چې د ملګرو ملتونو شتمنۍ اغیزمنوي، ۵۸ امنیتي پېښې مستند کړي چې په مستقیم ډول د دغه سازمان پرسونل اغیزمنوي. د پېښو د شمېر دغه مجموعه د ۲۰۲۱ کال په ورته موده کې د ۱۴۲ پېښو په پرتله کموالی په ډاګه کوي.

## ج.	سیمه ییزه همکاري

۲۸.	سیمې له برحاله چارواکو سره پر یو شمېر لومړیتوبونو لکه سیمه ییز او د پولو امنیت، له تروریزم سره مبارزه، د نشه یي توکو قاچاق، د ښځو او نجونو حقونه او ټولشموله حکومتولۍ په اړه خپل تعامل ساتلی. د شانګهای همکارۍ سازمان د هېوادونو د مشرانو د سرمشریزې په اعلامیه کې چې د ازبکستان په سمرقند کې د سپتمبر پر ۱۵ او ۱۶ نېټه ترسره شوه (کومې ته چې برحاله چارواکي نه وو بلل شوي)، ګډونوالو د ټول‌شموله حکومت غوښتنه وکړه او د سیمې لپاره یې د افغانستان د امنیت پر اهمیت او دې اړتیا ټینګار وکړ چې افغانستان یو خپلواک، بې‌طرفه، متحد، دیموکراتیک او سوله‌ییز، له ترهګرۍ، جګړې او نشه يي توکو څخه پاک هیواد وي. د ازبکستان ولسمشر شوکت میرضیایف د دې وړاندیز وکړ چې د شانګهای همکارۍ سازمان دې د افغانستان لپاره د بشري مرستې صندق جوړ کړي. د آسیا د تعامل او باور جوړونې د اقداماتو په اړه د کنفرانس په شپږمه سرمشریزه کې چې د اکتوبر پر ۱۳ نېټه په آستانه کې ترسره شوه، ولسمشر میرضیایف وړاندیز وکړ چې له برحاله چارواکو سره د تعامل په پار دې د لوړ پوړو مذاکره کوونکو یوه نړیواله ډله جوړه شي. د ترکي هېوادونو د سازمان په سرمشریزه کې چې د نومبر پر ۱۱ نېټه په سمرقند کې ترسره شوه، یوه اعلامیه خپره شوه چې ګډونوالو یې د وړاندیز هرکلی وکړ او د یوه داسې جامع او ممثل سیاسي نظام، چې بنسټیز بشري حقونه مراعاتوي، او تقویه شویو هڅو لپاره ملاتړ څرګند کړ چې له افغانستان سره بشري مرستې وکړي او د هغه له اقتصادي بیارغونې سره مرسته وکړي.

۲۹. د اکتوبر پر ۲۷ نېټه، د مرکزي اسیا پنځو ولسمشرانو او د اروپایي شورا رئیس چارلیز میشل، په آستانه کې له غونډې وروسته یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې د ټولو افغانانو په ځانګړي ډول د ښځو، نجونو او لږکیو د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو د ودې او درناوي، د یوه ټولشموله او ممثل حکومت پر جوړولو؛ او د افغانانو لپاره د بشري مرستو په چمتو کولو کې د تعامل پراخولو د اړتیا پر اهمیت ټینګار کوي. دوي همدارنګه د منځنۍ اسیا هیوادونو له خوا د افغانانو لپاره د تعلیمي فرصتونو چمتو کول تایید کړل.

۳۰. برحاله چارواکو د اکتوبر پر ۱۲ نېټه په کابل کې په یوه کنفرانس کې چې برحاله د رئیس الوزراء مرستیال عبدالسلام حنفي او برحاله د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي په کې ګډون کړی و، د سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه د خپل لیدلوری، د خپلې اقتصاد محوره بهرنۍ پالیسۍ د یوه اساسي عنصر په څېر بیانول جاري ساتلي. د اتصال، سوداګرۍ او ترانزیت په اړه یو څه پرمختګونه شوي چې په کې د هوايي ترافیک کنټرول په موخه د سپتمبر پر ۸ نېټه د کابل په ګډون د څو نړیوالو هوايي ډګرونو لپاره له اماراتي شرکت سره د تړون لاسلیک؛ د سپتمبر پر ۱۰ نېټه د یوه څلور اړخیز تړون اعلان چې د اورګاډي او سړک سوداګریز دهلېز ازمایل دي چې افغانستان د قرغیزستان او ازبکستان له لارې له چین سره نښلوي؛ په مناسبو بیو له روسیې فدراتیف څخه د پټرولو، ډیزلو، مایع ګاز او غنمو وارداتو د سپتمبر د ۲۷ نېټې اعلان؛ او د اکتوبر پر ۴ نېټه د ایران اسلامي جمهوریت له خوا د ۲۰۲۳ تر مارچ پورې د مایع ګاز د ترانزیت جواز غځول شامل دي.

۳۱. برحاله چارواکي په منظم ډول له چین سره د یو کمربند او یوې لارې په نوښت او د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هند د ګازو په نل‌لیکې کې د افغانستان د شاملولو په اړه په خبرو اترو کې بوخت وو. د اکتوبر پر ۱۰، برحاله چارواکو خبر ورکړ چې له ترکمنستان سره پر یو شمېر موضوعاتو توافق ته رسیدلي، لکه د ځمکې د استملاک او د نل‌لیکې د جوړولو لپاره مهالویش، او په هرات کې صنعتي پارکونو او میشت ځایونو ته د ګازو وېش. د نومبر پر ۲ نېټه په یوه ګډه اعلامیه کې چین او پاکستان پر دې اړتیا توافق وکړ چې د افغان وګړو لپاره د هغوي بشري او اقتصادي مرستې دوام ومومي او په افغانستان کې پراختیايي همکاري پیاوړې شي، د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز کې د افغانستان د شاملولو په ګډون. دغه راز د اکتوبر پر ۲۵ نېټه برحاله چارواکو د مزار شریف نړیوال هوايي ډګر پرانیست چې د ازبکستان په مالي او تخنیکي مرسته بیا رغول شوې و.

۳۲. له اقتصادي موضوعاتو ها خوا، برحاله چارواکو هڅه وکړه چې د مسلمان اکثریت لرونکو هیوادونو له دیني عالمانو سره خپلې اړیکې پراخې کړي. د اکتوبر پر ۱۵ او ۱۶ نېټه د طالبانو د ویاند ذبیح الله مجاهد په مشرۍ یوه پلاوي په ترکیه کې د اسلامي عالمانو په اوومه غونډه کې ګډون وکړ. له غونډې وروسته یوه اعلامیه خپره شوه چې په کې له اسلامي هېوادونو غوښتل شوي و چې له افغانستان سره فرهنګي، سیاسي او اقتصادي اړیکې پراخې کړي او یو ځل بیا په کې په افغانستان کې د پانګونې د هڅونې په ګډون د "اسلامي امارت" په رسمیت پېژندنه کې د اسلامي هېوادونو او دیني عالمانو پر نقش تاکید وشو. نوموړي پلاوي همدارنګه له ترکي چارواکو او په ترکیه کې له میشتو سوداګرو سره ولیدل. د دې په تعقیب د ترکیې دیني عالمانو یوه پلاوي د اکتوبر پر ۲۶ نېټه له کابل څخه لیدنه وکړه. د اکتوبر پر ۳۰ نېټه برحاله د پوهنې وزیر مولوي حبیب الله آغا له یوه ترکي سازمان سره په کابل کې د پنځو مدرسو د جوړولو یو تفاهم لیک لاسلیک کړ.

۳۳. یوناما د سیمه ییزې همکارۍ په اړه له برحاله چارواکو سره خپل تعامل جاري ساتلی او په کابل کې د میشتو سیمه ییزو سفیرانو د منظمو ناستو د همغږۍ کوربه وه. یوناما د اکتوبر پر ۱۲نېټه په کابل کې د پورته ذکر شوي کنفرانس او د ترهګرۍ سره د مبارزې او د ترهګرو د تګ راتګ مخنیوي لپاره د نړیوال او سیمه ییز سرحدي امنیت او مدیریت د همکارۍ په اړه د لوړې

کچې په نړیوال کنفرانس کې چې د ملګرو ملتونو او د تاجکستان حکومت په ګډه همغږۍ د اکتوبر پر ۱۸ او ۱۹نیټه په دوشنبه کې جوړ شوی و، ګډون وکړ.

**درېیم. بشري حقونه**

۳۴. د راپور ورکولو په موده کې، یوناما ۵۳۰ ولسي مرګ ژوبله (۱۲۴ مړه؛ ۴۰۶ ژوبل) مستند کړې. د دغې مرګ ژوبلې مخکښ لاملونه د لاس جوړ چاودېدونکي وسیلې او ناچاوده مهمات ګڼل کېږي. د سپتمبر پر ۳۰ نېټه د کابل ښار په دشتِ برچي سیمه کې پر کاج ښوونیز مرکز په یوه ځانمرګي برید کې چې کوم لوري یې مسؤولیت پر غاړه نه دی اخیستی، ۵۴ وګړي ووژل او ۱۱۴ نور ټپي شول چې زیاتره یې هزاره توکمه ځواني ښځې او نجونې وې. د راپور ورکولو په موده کې ناچاوده مهماتو ۱۹ کسان وژلي او ۳۵ نور ټپي کړي چې ډېری هغه یې ماشومان وو.

۳۵. یوناما دغه راز له محاکمې پرته ۹ وژنې، د شکنجې او ناوړه چلند لږ تر لږه ۵ قضیې او لږ تر لږه ۲۹ خپلسرې نیونې او توقیفونه مستند کړي چې د ۲۰۲۱ کال په اګست کې د اعلان شوې عمومي بخښنې څخه په سرغړونه کې د برحاله چارواکو له خوا د پخواني حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو په ضد ترسره شوي.

۳۶. که څه هم د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې سره د تړاو په تور د تورنو کسانو پر ضد د بشري حقونو سرغړونې د پخوانیو دورو په پرتله راکمې شوی، یوناما د ملي مقاومت له جبهې سره په تړاو د تورنو کسانو له محاکمې پرته ۶۹ وژنې، ۱۴ خپلسرې نیونې او توقیفونه او د شکنجې او ناوړه چلند ۶ موارد مستند کړي، چې ډېری هغه یې په پنجشیر ولایت کې رامنځ ته شوي چیرې چې په دره او خینج ولسوالیو کې د سپتمبر د ۱۲ او ۱۴ نېټو ترمنځ لږ تر لږه له محاکمې پرته ۴۸ وژنې ثبت شوي. د راپورونو له مخې د نوموړې جبهې ځینې نیول شوي غړي له محاکمې پرته وژل شوي. د سپتمبر پر ۱۷ نېټه، برحاله د دفاع وزارت اعلان وکړ چې د دغه ډول تورونو په اړه "جدي څېړنې" روانې دي، په داسې حال کې چې د اکتوبر د ۱۶ نېټې راپورونو په ډاګه کړه چې د شپږ کسیز کمیسیون مشري به د کابل پخواني والي ملا ندا محمد ندیم (اوسنی د لوړو زده‌کړو سرپرست وزیر) کوي، او یاد کمیسیون به په پنجشیر کې د نظامي عملیاتو پر مهال د نیول شویو کسانو دوسیې وڅېړي.

۳۷. برحاله چارواکو د افغان وګړو د بیان او نظر د آزادۍ او سوله ییزې راغونډېدو د حقونو محدودول جاري ساتلي. د ۲۰۲۱ کال له اګست وروسته د نړیوالې مرستې د سخت کمښت په تعقیب د تمویل بندېدو پورې اړوند مالي ننګونو په منځ کې، ډېری مدني ټولنې او رسنیو فعالینو خبر ورکړ چې د غچ اخیستنې له ویرې یې خپل فعالیتونه په ټیټه کچه ساتلي یا یې بند کړي دي. د ۲۰۲۲ کال د اګست له ۲۳ نېټې راهیسې د مدني ټولنې د فعالینو او د بشري حقونو د مدافعینو پر ضد د خپلسرې نیونې او توقیف اووه موارد او د ناوړه چلند او تهدیدونو شپږ موارد او دغه راز د ژورنالستانو پر ضد د ناوړه چلند او تهدیدونو څلور موارد مستند کړي. په کابل او نورو ښارونو کې د ثبت شویو ۲۰ سوله ییزو لاریونونو چې د ښځو له خوا تنظیم شوي وو، له نیمه یې زیات هغه یې د برحاله چارواکو له خوا د غیر ضروري یا نا متناسب ځواک په کارولو سره پاشل شوي.

۳۸. د اګست پر ۲۳ نېټه، برحاله د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د رسنیو د سرغړونو او شکایتونو اورېدو کمیسیون بېرته جوړ کړ چې له دغه وخت راهیسې یې درې ځله ناستې ترسره کړي او چیرې چې به د بندي شویو ژورنالستانو قضیې څېړل کېدې. ژورنالستانو بیا له هغې وروسته برحاله د استخباراتو د لوي ریاست له بند څخه خلاص شوي. که څه هم د رسنیو د سرغړونو د کمیسیون بیا فعالول یو مثبت ګام و، خو بې طرفي یې تر پوښتنې لاندې راغله ځکه چې غړي یې په عمده ډول له برحاله چارواکو څخه ټاکل شوي وو. سربېره پر دې، برحاله چارواکو د اکتوبر پر ۳ نېټه د دوه رسنیو (زاویه نیوز او هشت صبح) ویبپاڼې

وتړلې. د اکتوبر پر ۱۵ نېټه د طلوع نیوز رئیس خپلواک ساپی له کابل څخه ووت، او پر خپله ټویټر پاڼه یې په ډاګه کړې وه چې هغه نور په افغانستان کې کار نه شي کولی ځکه چې په څو مواردو کې توقیف او ګواښل شوی دی.

۳۹. د راپور شویو ګواښونو او تهدیدونو او د محدودوونکو حکمونو له امله چې ښځینه ژورنالستانې یې هدف ګرځولي، ورځ تر بلې د هغوي شمېر مخ په کمېدو دی. د ملګرو ملتونو د جنډر مساوات او د ښځو د پیاوړتیا ادارې (UN-Women) څېړنه په ډاګه کوي چې رسنۍ دې ته ترجیح ورکوي چې د برحاله چارواکو د پراخو محدودیتونو د نه مراعاتولو له امله د پایلو له ویرې د ژورنالستانو په څېر د ښځو په پرتله سړي وساتي. سربېره پردې، په اوسني اقتصادي چاپېریال کې د تړل کېدو خطر سره تړلی مالي زیان د رسنیو د ښځینه رسنیو کارمندانو د ساتلو پر پریکړې منفي اغیز کوي.

۴۰. د نومبر پر ۱۰ نېټه، برحاله د امر بالمعروف او نهې عن المنکر وزارت اعلان وکړ چې ښځې تر دې وروسته نه شي کولی په ټول افغانستان کې عامه پارکونو ته لاړې شي. له مختلفو ولایتونو څخه راپورونو په ډاګه کړه چې ښځو ته جیمونو او حمامونو ته د تګ اجازه نه ورکول کېده. که څه هم د دغو نویو پالیسیو اندازه او اغیزې ارزول لا پاتې دي، خو د برحاله چارواکو له خوا د صادر شویو لارښوونو متنوع پلي کول بشري حقونه اغیزمنوي. د امر بالمعروف او نهې عن المنکر وزارت له ټینګار سره سره چې د دوی لارښوونه یوازې د "توصیې" بڼه لري، یوناما لږ تر لږه ۲۴ د بشري حقونو سرغړونې مستندې کړي چې د نوموړي وزارت د کارمندانو له خوا ترسره شوي. په دغو مواردو کې ناوړه چلند او شکنجه (په عمده ډول وهل ټکول) او د هغو اشخاصو خپلسري نیول او توقیفونه شامل و چې د سرغړونو په تور تورن وو، لکه هغه سلمانان چې د نارینه وو ږیرې یې جوړولې، هغه دوکانداران چې له محرم پرته ښځو ته یې د سودا اخیستلو اجازه ورکړې، له محرم پرته یا هغه ښځې چې د برحاله چارواکو له خوا ټاکل شوي د لباس قواعدو پر ماتولو تورنې وې.

۴۱. له خپلو بنسټیزو حقونو او آزادیو څخه د ښځو او نجونو برخمن کېدل په ځانګړي ډول محدود پاتې دي. د برحاله ځایي چارواکو له خوا د حجاب او محرم لارښوونو نا هماهنګ خو کله ناکله سخت پلي کول د راپور شوي فزیکي او لفظي تیریو لامل شوي. په طبي مرکزونو کې د روغتیایي کارمندانو جنسیتي جلاوالی اوس بنسټیز شوی، ښځینه روغتیایي کارکوونکي یوازې ښځو ته رسیدګي کوي، په داسې حال کې چې هغه ښځینه ناروغانې دغو مرکزونو ته له ننوتلو منع شوي چې محرم ورسره نه و. د ډېرې نجونو لپاره ثانوي زده کړو ته لاسرسی لاهم ځنډول شوی، په داسې حال کې چې د سپتمبر د ۸ او ۱۰ ترمنځ برحاله چارواکو په پکتیا ولایت کې د لنډ وخت لپاره پرانیستل شوي دولتي ثانوي ښوونځي بېرته وتړل.

۴۲. لا اوس هم د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د پېښو راپور ورکول کېږي، چې له وژنې، ناموسي وژنو او ځان وژنې څخه نیولې تر جبري ودونو او وهلو ټکولو پورې رسېږي چې د ټپي کېدو یا معلولیت لامل کیږي. غیر رسمي راپورونه ښیي چې برحاله ځایي چارواکي د مدني مسلو او د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي راپور شویو قضیو ته د رسیدګي په پار د رسمي او غیر رسمي عدالت میکانیزمونو ترکیب کاروي، خو دا یو شان نه دی او په ځانګړي ډول عدالت ته د ښځو د لاسرسي په اړه اندیښنې نه حل کوي، په تېره بیا د ښځینه قضایي متخصصینو د نشتون په پام کې نیولو سره. د اګست پر ۲۱ نېټه د لوی څارنوال دفتر هغه تخصصي ریاست لغوه کړ چې په ۲۰۱۸ کال کې په کار ځای او لوړو زده کړو کې د ښځو د ځوروونې د څېړلو لپاره رامنځته شوی و، چې د دغه کار لامل یې ظاهرا د بودجې محدودیتونه په ګوته کړل.

۴۳. د اګست او سپتمبر په میاشتو کې، یوناما او د ملګرو ملتونو د ښځو ادارې د هېواد دننه او انلاین ۱۵ مشورتي غونډې د ۱۲ ولایتونو له ۲۰۷ افغان ښځینه مشرانو سره، چې د بېلا بېلو شخصي او مسلکي مخینو درلودونکې وې، ترسره کړې. هغوي په یوه خوله ټینګار وکړ چې د نجونو د منځنیو ښوونځیو بیا پرانیستل تر ټولو بېړنی لومړیتوب دی، او په تعقیب یې خوندیتوب

او امنیت راځي (چې د ۷۱ سلنه ګډونوالو له خوا په ډاګه شو)، او له نړیوالې ټولنې یې وغوښتل چې له زده کړو ور ها خوا د ښځو او نجونو لپاره د حقونو بشپړې ټولګې په بېرته راګرځولو تمرکز وکړي. مشوره شویو ښځو استدلال وکړ چې یوازې پر زده‌کړو محدود تمرکز به د ښځو د ټولو حقونو د بېرته راګرځولو لپاره د غوښتنو کچه راټیټه کړي. دوي دغه راز له یوناما څخه غوښتنه وکړه چې له برحاله چاراوکو سره په مختلفو مذاکراتو او ډیالوګ کې خپل ګډون زیات کړي لکه د ښځو د مستقیم تعامل په پار د یوه پلاټفورم/میکانیزم رامنځ ته کول، او سیمه ییزو او مسلمان اکثریت درلودونکو هیوادونو څخه یې وغوښتل چې د ښځو او نجونو د وضعیت د ښه کولو لپاره دې خپل نفوذ اعمال کړي.

۴۴. د څارنې او راپور ورکونې هیوادنې ټیم د راپور ورکولو په موده کې د ۲۶۹ ماشومانو (د ۴۷ نجونو په ګډون) په ضد ۵۲۲ سختې سرغړونې تایید کړي. د ماشومانو وژنه او ژوبلونه تر ټولو معمول سرغړونه ګڼل کېږي چې ۲۶۷ ماشومان (۶۴ مړه، ۲۰۳ ژوبل) یې اغیزمن کړي.

۴۵. یوناما برحاله د زندانونو د چارو د سمون ادارې لپاره د تخنیکي سلا مشورو او د پوهاوي لوړولو ناستو برابرول جاري ساتلي څو محبسونه د دې ور کړي چې خپل د بشري حقونو مکلیفیتونه ترسره کړي. د توقیف د شرایطو په اړه د محبس له ولایتي مشرتابه سره پر روان تعامل سربېره، د اګست میاشتې تر نیمه یې پورې برحاله د زندانونو د چارو د سمون ادارې یوناما ته د کابل د پل چرخي زندان په ګډون په یو شمېر موقعیتونو کې په زندانونو کې بندیانو ته لاسرسی ورکړی.

۴۶. د بندي شویو خلکو د شمېر د کمولو لپاره د پخوا راپور شویو هڅو سره سره، مالي محدودیتونو او د تمویلوونکو د مرستو بندېدو برحاله د زندانونو د چارو د سمون ادارې پر وړتیا د پام وړ اغېز کړی چې نړیوال معیارونه پوره کړي؛ لکه د کافي خوړو او حفظ‌الصحې توکو، حرفه یي زده‌کړې او روزنې، او روغتیایي اړتیاوې منظم تامینول. د ځوانکیو د جلا ساتنې اسانتیاوو لپاره د کافي بودجې د نشتون له امله ماشومان په ډېری ولایتي زندانونو کې لا هم د لویانو ترڅنګ بندیان وو، که څه هم ډېری وخت په جلا څانګه یا برخه کې ساتل کېدل. په ځینو ځایونو کې، نجونې له ښځینه بندیانو سره ساتل کېدې. په وروستیو میاشتو کې په پکتیا او بغلان ولایتونو کې د ځوانکیو لپاره جلا دوه نورو مرکزونو فعالیت پیل کړی چې په دې سره یې مجموعي شمېر څلور ته لوړ شو.

**څلورم. اقتصادي پراختیا، د مرستندویانو همغږي او د مرستو مؤثریت**

۴۷. اقتصاد د سوکه ثبات نښې ښیي، سره له دې چې د ۲۰۲۱ کال د اګست په پرتله د اقتصادي فعالیتونو کچه خورا ټیټه ده. ډېری هغه عوامل چې د ۲۰۲۱ کال له اګست راهیسې یې پر اقتصاد منفي اغېز کړی لا هم دوام لري، لکه د پراختیایي مرستو شدید کمښت، د نړیوالو مالي راکړو ورکړو ستونزې، پر بانکي سکټور اغېزې، او د مسلکي کاري ځواک کمښت. د راپورونو له مخې د ۲۰۲۲ کال په لومړیو اوو میاشتو کې د دولت عواید راغونډول چې تر ډېره د ګمرکي عوایدو له لارې وه، د ۲۰۲۱ او ۲۰۲۰ کلونو د ورته مودې په پرتله لږ څه زیاته وو. هند او پاکستان ته صادرات د تېر کال په پرتله زیات شوي، په داسې حال کې چې د اساسي توکو بیې باثباته شوې دي او آن په ځینو مواردو کې راکمې شوې چې ښایي تر یوې اندازې د روسیې فدراسیون څخه د وارداتو له امله وي. د اکتوبر پر ۱۸ نېټه د نړیوال بانک خپور شوی راپور په سوداګریزو عوایدو او د کورنیو په عایداتو کې د لږ ښه‌والي ښکارندوی دی. خو ډېری افغانان لا اوس هم له ببوزلۍ سره مخ دي او د پام وړ ښه‌والي لږه هیله شته، ځکه اټکل کېږي چې د هېواد له ۹۰ سلنې څخه زیات وګړي د خوړو له ناخوندیتوب سره مخ دي.

۴۸.	د سپتمبر پر ۱۴ نېټه متحده ایالاتو په سویس کې د میشت د نړیوالو تصفیې د بانک په کوربتوب د افغان وجهي صندوق د جوړولو اعلان وکړ چې د متحده ایالاتو د ۱۴۰۶۴ شمېره اجرایوي فرمان له خوا ځانګړي شوي د افغانستان ۳.۵ ملیارد ډالر په نړیوالو زیرمو کې خوندي کړي. که څه هم برحاله چارواکو د وجهي صندوق د تاسیس په وړاندې اعتراض وکړ او د افغانستان مرکزي بانک ته یې د زیرمو د ورکولو غوښتنه کوله، متحده ایالاتو په ډاګه کړې چې تمه کېږي چې صندوق به د هدفمندو پیسو ورکړې ترسره کړي، څو د افغانستان د اقتصاد د لا زیات ثبات په رامنځته کولو کې مرسته وکړي. د اکتوبر په میاشت کې په یوه جلا تحول کې د برحاله چارواکو او اروپایي شرکتونو ترمنځ د نویو افغانۍ بانکنوټونو د چاپ لپاره دوه معاملې ترسره شوې، او د نومبر په لومړیو کې د دغو نوټونو لومړۍ جوپه راورسېده؛ دغه نوي بانکنوټونه د نقدینګي هغو ستونزو د کمولو لپاره اړین بلل شوي وو چې د بانکنوټونو د طبیعي زړښت له امله رامنځته شوې وې.

۴۹.	د بشري مرستو د عملیاتو او د ملګرو ملتونو د کارکوونکو او قراردادیانو د معاشونو د تادیې په موخه د ملګرو ملتونو له خوا د نغدو پیسو د واردولو جوړ شوي سیستم خپل فعالیت جاري ساتلی، چې د ۲۰۲۱ د ډسمبر د ۱ او د ۲۰۲۲ د نومبر د ۱۴ نېټو ترمنځ ۱.۶۳ بیلیونه امریکایي ډالر لیږدول شوي. دغه مبلغ په مستقیم ډول د افغانستان نړیوال بانک له لارې د ملګرو ملتونو ۱۹ ادراو، وجهي صندقونو یا پروګرامونو، نړیوال بانک او ۳۰ نړیوالو نادولتي سازمانونو ته ویشل شوي. د نغدو پیسو عرضې د افغانۍ د ارزښت په ټینګښت کې مرسته کوي، او له برحاله اداري سره له مستقیم ملاتړ پرته د یوه اقتصادي محرک په څېر کار کوي. غیر دولتي سازمانونو ته ورکړل شویو نغدو پیسو هغوي ته د دې زمینه برابره کړه چې خپل فعالیتونه د روغتیا، زده‌کړو، چاپېریال او د زیانمنو ټولنو د خوندیتوب په برخو کې جاري وساتي.

۵۰.	د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام له خوا مدیریت کېدونکی د افغانستان لپاره بین الاداراتي وجهي صندق د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ۲۰۲۲ د تعامل انتقالي چوکاټ د تمویل خورا مهم پلاټفورم ګڼل کیږي. نوموړي صندق تر دې دمه له مرستندویه شریکباڼو څخه ۱۲۶.۲۳ میلیونه امریکایي ډالر ترلاسه کړي چې په افغانستان کې له ۱ میلیون وګړو سره مرسته کوي. د تطبیق فعالیتونه چې د ۲۰۲۲ کال د جنوري په ۱ پیل شوي، د بشري اساسي اړتیاوو د پوره کولو لپاره د بنسټیزو خدماتو، معیشت، د پېښو د خطر کمولو، د ټولنې د مقاومت پیاوړتیا، پلان جوړونې او ټولنیز یووالي په برخو کې کار کوي. دغه فعالیتونه د بشري مرستو بشپړوونکې خدمتونه دي او په پام کې ده چې بشري اړتیاوې راکمې کړي. اته سیمه ییز ګډ پروګرامونه او  د روغتیا په اړه یوه ګډه سکتوري پروژه د ملګرو ملتونو د ۱۷ ادارو، وجهي صندقونو او پروګرامونو په همکارۍ طرح شوي او د یوې اداري په څېر خدمتونه وړاندې کوي. د ۲۰۲۲ د اګست پر ۳۰ نېټه، د صندق رهبري کمېټې د ختیځې سیمې لپاره د ۴۱.۵ میلیونه ډالرو تخصیص تایید کړ، پر هغه ۱۰۲،۲۰ میلیونه ډالرو سربېره چې د دوه سیمه ییزو ګډو پروګرامونو لپاره لا وار د مخه تخصیص شوي وو. د پاتې پنځو نورو زونونو لپاره د منابعو د بسیجونې په پار هڅې روانې دي.

۵۱.	ملګري ملتونه یو نوی ستراتیژیک چوکاټ جوړوي چې د انتقالي مشارکت چوکاټ ځای ناستی به وي، او اوسمهال د ۲۰۲۳ کال په لومړۍ ربع کې د پیل لپاره پلان جوړ شوی دی. په اکتوبر او نومبر میاشتو کې په بدخشان، بلخ، بامیان، فاریاب، غور، هرات، کندهار، کاپیسا او پکتیکا ولایتونو کې په ځایي کچه سلا مشورې ترسره شوې. په دغو سلا مشورو کې د ښځو، ځوانانو، د ټولنې د مشرانو، خصوصي سکتور فعالینو او کروندګرو په ګډون ۵۱۴ شریکباڼو او د برحاله چارواکو ۱۱۷ استازو برخه اخیستې وه. په سپتمبر کې ډونرانو د تمویل پلټفورمونو، نا دولتي سازمانونو او د ملګرو ملتونو استازو د همغږۍ یو میکانیزم جوړ کړ چې د لوړې کچې یو ګډ چوکاټ رامنځته کړي چې د ۲۰۲۳–۲۰۲۵ کلونو لپاره د افغانستان ستراتیژیک چوکاټ په ګډون د بشري اساسي اړتیاوو په برخه کې لا زیات تعامل رهبري کړي.

۵۲.  په سپتمبر کې د میشت همغږي کوونکي تر مشرتابه لاندې د افغانستان لپاره د پایښت لرونکو ملي حل لارو کاري ګروپ تشکیل شو څو د داخلي بېځایه کېدنې په اړه د عمومي منشي د عمل اجنډا سره په سمون کې ستراتېژیک مسیر برابر کړي. نوموړي کاري ګروپ په افغانستان کې د داخلي بېځایه کېدنې د حل لارو په اړه یو ۲۴ میاشتنی ستراتېژیک کاري چوکاټ طرح کړ چې پر ساتنه، د سیمې پر بنسټ طریقو، او په بشري، سوله ییز او پراختیایي اړیکو تمرکز کوي.

۵۳.  د مرستې د نوي جوړښت د عملي کولو په برخه کې، یوناما او نړیوال بانک د سپتمبر پر ۷ او ۸ نېټه د ترکیې په استانبول کې د افغانستان د همغږۍ ډلې غونډه جوړه کړه ترڅو د همغږۍ هڅو، تمویل او پروګرام وړاندې کولو په اړه درې میاشتنۍ ارزونه ترسره کړي. پنځو ستراتېژیکو موضوعي کاري ګروپونو د خپلو لومړیتوبونو په اړه تازه معلومات وړاندې کړل. دغه ګروپ د تمویل د بهیرونو ترمنځ پر یو همغږي شوې تګلار توافق وکړ، څو د تړوتي کېدو او تکرار مخه ونیول شي. ډونرانو له برحاله ادارو سره د احتمالي تخنیکي مرستو په اړه خبرې وکړې، څو د بشري اساسي اړتیاوو پروګرام جوړونه او ستر-اقتصاد ثبات پیاوړی کړي. له برحاله چارواکو سره د تعامل د کچې په اړه د ځینو ډونرانو د اندېښنو په پام کې نېولو سره، کاري ګروپ د اقتصادي ثبات په پار له برحاله چارواکو سره د پراخو ګډو موخو د ټاکلو امکان وڅېړه او له یوناما څخه یې وغوښتل چې د دغو خبرو مشري وکړي او د نږدیتوب احتمالي ګډې ټکي په ګوته کړي. ډونرانو د بنسټیزو خدماتو وړاندې کولو او مهمو متقابلو دندو کې ښکیلو برحاله ادارو ته د تخنیکي مرستې د برابرولو لپاره د روښانه طریقو د په ګوته کولو اړتیا درک کړه. دوي دغه راز د کوچني کچې زیربنایي پروګرامونو چې د ۲۰۲۱ کال له اګست راهیسې ځنډول شوي د بیا پیلولو په پار د انتخابونو په لټه کې دي.

۵۴.  د سپتمبر پر ۱۵ نېټه د افغانستان لپاره د فرانسې، جرمني، ایټالیا، ناروې، د بریتانیا او شمالي ایرلینډ، متحده ایالاتو او اروپایي اتحادیې ځانګړو استازو په واشنګټن ډي سي کې سره ولیدل، او یوه اعلامیه یې خپره کړه چې په کې په ډاګه شوې وه چې له افغانستان سره بهرنۍ مرستې او تعامل د افغانانو په ګټه دي په داسې حال کې چې د سیاسي، امنیتي او بشري حقونو د تحولاتو په اړه یې د دوامدارو اندیښنو یادونه کوله.

۵۵.  یوناما همدارنګه د خطر د مدیریت او تقلب د کمولو او انحراف د خطرونو په اړه د ملګرو ملتونو له ادارو، وجهي صندقونو یا پروګرامونو سره خپله همکاري جاري ساتلې. د قراردادي د معلوماتو د مدیریت د یوه بربښنایي سیستم ګډ تطبیق رامنځ ته شوي څو د بالقوه او شریکو همکارو ادارو په اړه د معلوماتو شریکول تقویه کړي. د ملګرو ملتونو د سیستم په کچه د خطر مدیریت کاري ګروپ له خوا په ګوته شوي خطر کمولو ګډ اقدامات رهبري کوونکو ادارو ته سپارل شوي او په منظم ډول بیا ارزول شوي.

**پنځم.  بشري مرستې**

۵۶.  بشري وضعیت اوس هم د اندېښنې وړ دی، ځکه افغانستان د پرله‌پسې دریېم کال لپاره وچکالۍ ډوله شرایطو او د اقتصادي کمښت دویم کال ته ننوځي؛ کورنۍ نه شي کولای د پرله‌پسې ناورینونو او د جګړو له امله د لسیزو راهیسې د رامنځته شوي زیانمنتوب څخه ځانونه بېرته ورغوي، او له بل ژمي سره مخ دي. د ۲۰۲۳ کال د بشري غبرګون پلان جوړونې ارقام ښیي چې د نفوس دوه پر دریمه برخه، یا ۲۸.۳ میلیونه خلک به په ۲۰۲۳ کال کې بشري او محافظتي مرستو ته اړتیا ولري، چې دا شمېره په ۲۰۲۲ کال کې ۲۴.۴ میلیونه او د ۲۰۲۱ کال په پیل کې ۱۸.۴ میلیونه وه. د نومبر تر ۱۶ نېټې پورې، د ۲۰۲۲ کال د بشري مرستو د غبرګون پلان یوازې ۵۴.۱ سلنه تمویل شوی، چې ۲.۰۴ بیلیونه امریکایي ډالرو له کمښت سره مخ دی.

۵۷. د خوړو سخت ناخوندیتوب او خوارځواکي موجوده ده. تمه کېږي چې د هغو خلکو شمېر چې د ۲۰۲۲ کال د نومبر څخه تر ۲۰۲۳ کال د مارچ پورې د خوړو د نه‌خوندیتوب د بحران او بېړني حالت له کچو سره مخ دي، ۲۰ میلیونو ته لوړ شي (چې پخوا د همدې مودې لپاره تر نومبر ۲۰۲۲ پورې ۱۸.۹ میلیونه اټکل شوی و). دغه شمېر د وروستیو اټکلونو په پرتله لږ څه لوړ دی، خو د تېر کال د همدې مودې لپاره له شوو اټکلونو څخه ټیټ دی، ځکه چې د سیستمونو بشپړ سقوط او د بشري ټولنې د عملیاتي وړتیا کمېدو د تر ټولو بدې سناریو د بندیزونو د معافیتونو، د نقدیني حل‌لارو او نورو اسانتیا برابروونکو سیستمونو له لارې تر یوه حده مخنیوی شوی. سره له دې، د خوړو د نه خوندیتوب شدت د ثابت کېدو په حالت کې دی چې ۶ میلیونه خلک د خوړ د نه خوندیتوب د بېړني حالت په کچه کې دي، چې دا په نړۍ کې یو تر ټولو لوړو شمېرو څخه ګڼل کېږي.

۵۸. د بشري مرستو همکارو ادارو زیاتېدونکو اړتیاوو ته ځواب ویل زیات کړي. د جنوري او اکتوبر تر منځ د بشري مرستو همکارو ادارو لږ تر لږه ۲۴.۳ میلیونه وګړو ته لږ تر لږه یو ډول بشري مرسته رسولې. په دې کې ۲۱.۷ میلیونه خلکو ته د خوړو او معیشت ملاتړ؛ ۹.۴ میلیونه خلکو ته روغتیایي؛ ۵.۲ میلیونه له پنځه کلنۍ کم عمره ماشومانو او امیندوارو او ماشوم ته شیدو ورکوونکو میندو د خوارځواکۍ درملنه؛ ۹.۸ میلیونه وګړو ته اوبه او روغتیا پالنې مرسته؛ ۵۱۸۰۰ ماشومانو ته ښوونیز ملاتړ؛ ۱.۵ میلیونه وګړو ته سرپناه او د کورنۍ اسباب؛ او ۴.۷ میلیونه وګړو ته حمایتي مرسته شامل دي.

۵۹. د بشري مرستو همکارو ادارو د جون پر ۲۲ نېټه د افغانستان په جنوب ختیځه سیمه کې د ۵.۹ درجې زلزله ځپلو لپاره د چټک غبرګون درې میاشتنۍ پلان پیل کړی چې په نهو اغېزمن شویو ولسوالیو کې ۵۱۵۰۰۰ وګړو ته رسېدنه کوي. د بیړني وضعت پړاو په سپتمبر کې پای ته ورسید.

۶۰. د جنوري د ۱ او د نومبر د ۱۲ نېټو ترمنځ د شري ۷۲۷۸۹ شکمنې قضیې وې چې له ۳۸۰ وژنو سره ملې وې. د دغو قضیو له جملې ۷۷ سلنه په هغو ماشومانو پورې اړوند وې چې عمرونه یې له پنځه کلنۍ کښته وو. ملګرو ملتونو د اګست د ۲۱ او د نومبر د ۱۵ نېټو ترمنځ له ۲ میلیونو زیات ماشومان د شري ضد واکسین کړي. د اګست د ۲۱ او د نومبر د ۱۲ نېټو درمنځ، په ۱۷۲ ولسوالیو (۳۴ ولایتونو) کې د اوبو له کمښت سره د اوبلن اسهال ۸۸۱۱۸ قضیې (۵۵ سلنه یې هغه ماشومان اغیزمن کړي چې عمرونه یې له پنځه کلنۍ کښته وو) راپور شوي، چې د مړینه کچه یې ۰.۰۴ سلنه وه. له جنوري راهیسې افغانستان د وحشي پولیو ویروس لومړي ډول دوه قضیې ثبت کړې او د واکسین څخه اخیستل شوي د پولیو ویروس دوهم ډول هیڅ قضیه نه ده ثبت کړې. د ۲۰۲۲ کال د جنوري له ۱ نېټې راهیسې، په ټول هیواد کې د پولیو ضد شپږ کمپاینونه ترسره شوي چې په هر یوه کې یې ۹.۹ میلیونه ماشومان په نښه شوي او د کور په کور او جومات پر جومات واکسینولو طریقې کارولې، چې نږدې ۳ میلیونه هغو ماشومانو ته رسیدلي چې د ۲۰۱۵ کال راهیسې د لاسرسي وړ نه وو.

۶۱. د اګست د ۲۱ او اکتوبر د ۳۰ نېټو ترمنځ د جګړې اړوند د ترما قضیې په ۲۰۲۱ کال کې د ورته مودې په پرتله ۸۷ سلنه راکمې شوي، د پخوانیو ۱۰۸۰۲ وګړو په پرتله ۲۲۲۵ وګړو د جګړې اړوند ترما پاملرنه ترلاسه کړې. د جنوري د ۱ او د نومبر د ۱۵ نېټو ترمنځ ۴۱۶۲۴ له طبي اختلالاتو سره د خوارځواکۍ لرونکي ماشومان په بستري ځانګو بستر شوي او شدیدې خوارځواکۍ درملنه یې شوې. له ۵۰۰ څخه زیات ګرځنده روغتیایي او د تغذیې ټیمونو په لیرې پرتو سیمو کې خلکو ته رسېدنه جاري ساتلې، چې هره میاشتې له ۴۵۰۰۰۰ څخه زیاتې سلا مشورې وړاندې کوي.

۶۲. په داسې حال کې چې د ۲۰۲۱ کال له سپتمبر راهیسې د نظامي عملیاتو او جګړه‌ییزو فعالیتونو کمښت همکارو ادارو ته د دې زمینه برابره کړه چې هغو سیمو ته ورسېږي چې پخوا د لاسرسي وړ نه وي، د لاسرسي په وړاندې خنډونه اوس هم دوام

لري. د بشري مرستو د فعالیتونو په تطبیق کې د لاسوهنې پېښې اوس هم لوړې دي چې د اګست د ۲۱ او نومبر د ۱۵ نېټو ترمنځ د ۲۷۵ هغو راپور ورکړل شوی، کوم شمېر چې د تیر کال د عین مودې پرمهال ۱۴۶ و. د ۲۰۲۲ کال له پیل راهیسې، د روغتیایي کارمندانو پر ضد ۳ بریدونه او د بشري مرستو د پرسونلو، شتمنیو او مرکزونو په وړاندې د تاوتریخوالی او تهدیدونو ۳۰۲ پېښې ثبت شوي چې د تیر کال په ورته موده کې د مستند شویو ۵۲۲ پېښو په پرتله د پام وړ کموالي په ډاګه کوي. سربېره پر دې، د ځایي برحاله چارواکو له خوا د مرستې د ښځینه کارمندانو په ضد د ګواښونو یا تهدیدونو ۴۲ پېښې ثبت شوي ځرنګه چې د استخدام او ساتنې پر اندېښنو سربېره د بشري مرستو د ښځینه کارمندانو پر تګ راتګ وضع شویو محدودیتونو ښځو او نجونو ته لاسرسي کمزوری کړی. پر دې سربېره د تفاهم‌لیکونو د لاسلیک کولو لپاره د فشار په تړاو ۸۴ بیوروکراتیک خنډونه ثبت شوي دي. د ۲۰۲۲ کال له پیل راهیسې، همدارنګه د ویزې د ځنډ/رد یو مورد راپور شوی دی. د برحاله چارواکو له خوا د نویو لارښوونو په تطبیق سره د لاسرسي د خنډونو د زیاتېدو اټکل شوی و چې کولای شي پر بشري ساحه د پام وړ اغېز ولري.

۶۳. د اګست د ۲۱ او نومبر د ۱۳ نېټو ترمنځ افغانستان ته د ۲۳۱۶۷۹ خلکو ننوتل ثبت شوي. له دې جملې ۱۱۰۶۷۴ اخراج شوي او ۱۲۰۰۰۵ هغه په خپله خوښه راستانه شوي. د دغې مودې پرمهال، ۲۱۵۱۴۴ نا مستند شوي افغان کډوال د ایران له اسلامي جمهوریت څخه او ۱۶۵۳۵ له پاکستان څخه راستانه شوي. د جنوري د ۱ او نومبر د ۱۲ نېټو ترمنځ د ملګرو ملتونو د خپلې خوښې د راستنېدنې تر پروګرام لاندې ټولټال ۵۶۸۳ افغان کډوال – له پاکستان څخه (۵۳۲۸)، د ایران له اسلامي جمهوریت څخه (۳۳۶) او له نورو هیوادونو څخه (۱۹) – افغانستان ته راستانه شوي. د جنوري د ۱ او د نومبر د ۱۳ نېټو ترمنځ په افغانستان کې د تاوتریخوالي له امله لږ تر لږ ۳۲۴۱۰ خلک په داخلي ډول بېځایه شوي. له ۲۰۱۲ کال راهیسې شا و خوا ۵.۸ میلیونه وګړي د تاوتریخوالي او طبیعي ناورینونو له امله بېځایه شوي؛ په دې کې ۸۶۶۰۰۰ هغه خلک شامل دي چې یوازې په ۲۰۲۱ کې بېځایه شوي، ۸۵ سلنه یې د اګست له ۱۵ نېټې مخکې بیځایه شوي وو.

۶۴. برحاله چارواکو هغه پخواني فرمانونه وځنډول چې موخه یې مستحقو داخلي بېځایه شویو ته د ځمکې د وېش له لارې د اوږدمهاله حل لارو برابرول و. د هغو داخلي بېځایه شوو کسانو تخلیه چې په غیررسمي مېشت ځایونو کې اوسېدل د بېلابېلو دلایلو له امله ترسره شوه، لکه د برحاله چارواکو له خوا خپلو اصلي سیمو ته د خلکو د ستنولو د هڅولو هڅه او همدارنګه اقتصادي شرایط. همدارنګه د اقتصادي رکود له امله داخلي بېځایه شوي د کرایې د ورکولو لږ توان لري.

۶۵. له جګړې څخه پاتې‌شونې چاودېدونکي توکي او د لاس جوړ چاودېدونکي وسیلې ولسي وګړو او د بشري مرستو پرسونلو ته ګواښ پېښوي. د راپور ورکولو په موده کې د ماین پاکۍ پروګرام د ۱۶.۴ متر مربع کیلو متره ککړې ځمکې سروې همغږې او ترسره کړه، چې په خوندي ډول یې په زرګونو له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي مهمات او د لاس جوړ چاودېدونکي وسیلې لرې کړې. د نومبر تر ۱۵ پورې ۹۹ سلنه د ماین پاکۍ ټیمونه فعال وو، چې ۴۱۸۵ وګړي په کې ګمارل شوي وو.

**شپږم. له نشه یي توکو سره مبارزه**

۶۶. په تیر یوه کال کې د کوکنارو کښت[1] د ۲۳۳۰۰۰ هکتاره ځمکې په پوښښ سره ۳۲ سلنه لوړ شوی چې د ځارنې له پیل راهیسې یې د ۲۰۲۲ حاصل درېیم تر ټول ستر کښت ګرځولی. د کرنې لاندې ساحې زیاتوالی د حاصلاتو د کمښت له امله جبران شوی، چې له امله یې د ۲۰۲۱ کال په پرتله تولید کم شوی.

[1] دغه ویبپاڼه وګورئ: www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan/Opium_cultivation_Afghanistan_ 2022.pdf.

۶۷.	د کوکنارو کښت لا هم د افغانستان په جنوب لوېديځ سيمه کې متمرکز پاتې شوی چې ۷۳ سلنه يې جوړوله او تر ټولو د ستر زياتوالی شاهده وه. د ۲۰۲۲ کال په لومړيو کې تر وچکالۍ وروسته، د آپيوم حاصلات په ۲۰۲۱ کال کې په هکتار د ۳۸.۵ کيلوګرامو له اوسط څخه شا و خوا ۲۶.۷ کيلوګرامه ته په هکتار راکم شول، چې د ۶۲۰۰ ټنه حاصلاتو لامل شو، کوم چې د ۲۰۲۱ کال په پرتله ۱۰ سلنه کموالی په ډاګه کوي. د ۲۰۲۲ کال حاصل کېدای شو چې د صادراتو د کيفيت ۳۵۰ تر ۳۸۰ ټنه هيروئينو ته، له ۵۰ تر ۷۰ سلنې سوچه والي سره، واړول شي. د افغانستانترياک د نړۍ شاوخوا ۸۰ سلنه کاروونکو ترياک پوره کوي.

۶۸.	د قانون پلي کوونکو ادارو له خوا د نشه يي توکو نيولو وښودله چې د ۲۰۲۱ کال له اګست راهيسې له افغانستان څخه د ترياکو قاچاق پرته له اخلال دوام کړی دی. د ۲۰۲۲ کال په اپرېل مياشت کې د برحاله چارواکو له خوا پر کښت تر بنديز وروسته په بيو کې ډراماتيک زياتوالي رامنځ ته شو چې د هر کيلو بيه له ۱۱۶ ډالرو څخه په مارچ کې نږدې ۲۰۳ ډالرو ته دوه برابره لوړه شوه. د کرندګرو عوايد د ترياکو له پلور څخه له ۴۲۵ ميليونه ډالرو څخه په ۲۰۲۱ کال کې ۱.۴ ميلياردو ډالرو ته په ۲۰۲۲ کال کې درې برابره شول — چې د ۲۰۲۱ کال د کرنيز سکتور د ارزښت ۲۹ سلنه جوړوي (په داسې حال کې چې په ۲۰۲۱ کې د کرنيز توليد ۹ سلنه وه). په ورته موده کې د انفلاسيون په پام کې نيولو سره، دغه زياتوالی د کروندګرو د پېرلو د ځواک په معنا نه ګڼل کيږي، ځکه چې د خوړو بيې په اوسط ډول ۳۵ سلنه لوړې شوې.

۶۹.	له نشه يي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر په هلمند او کندهار ولايتونو کې ۱۰۶۰۱ کروندګرو (۳۰ سلنه ښځې) ته رسېدنه کړې چې هغوي ته يې د کرنې اړين توکي او د غلو او لوړ ارزښت لرونکو حاصلاتو د توليد، مالدارۍ، د حيواناتو پالنې، د چرګانو روزنې، د اوبو لګولو د جوړښتونو د بيا رغونې او د توليدوونکو لپاره د بازار د اړيکو د رامنځته کولو په برخو کې د ترويج خدمتونه برابر کړي. دغه مداخلتونه د خوړو د خونديتوب او معيشتونو د تقويې په موخه ترسره شوي چې د ګټه اخيستونکو لپاره د غلو حاصلاتو او شيدو په توليد کې د ۷ سلنه زياتوالي لامل شوي. سربېره پر دې، له نشه يي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر او د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام يوه ګډه پروژه پيل کړې چې د هيواد په ختيځو، لويديځو، شمالي او مرکزي لوړو سيمو کې د نشه يي توکو د درملنې د ۱۷ مرکزونو لپاره چې د ۹۳۰ بسترونو ظرفيت لري، اړين درمل او طبي تدارکات برابروي.

**اووم:	د ماموريت ملاتړ**

۷۰.	د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې، په يوناما کې د نړيوالو کارکوونکو لپاره د تشو بستونو کچه ۱۰ سلنه، د ملګرو ملتونو د نړيوالو رضاکارانو لپاره ۷ سلنه، د ملي مسلکي افسرانو لپاره ۱۳ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۱۰ سلنه وه، چې د دې په پرتله په ترتيب سره تائيد شوې کچه ۸ سلنه، ۷ سلنه، ۳ سلنه، او ۳ سلنه ښودل شوې ده. د ښځينه کارکوونکو تناسب د نړيوالو کارکوونکو لپاره ۳۲ سلنه، د ملګرو ملتونو د نړيوالو رضاکارانو لپاره ۳۳ سلنه، د ملي مسلکي افسرانو لپاره ۱۲ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۸ سلنه دی.

**اتم:	مشاهدې**

۷۱. ملګرو ملتونو په افغانستان کې خپل حضور ساتلی چې موجوده او نویو بشري بیړنیو حالاتو ته ځوابونه پراخ او تقویه کوي، د اقتصادي رغونې لپاره کار کوي، د ښځو او نجونو په ګډون بنسټیزو بشري حقونو او آزادیو ته درناوي ته وده ورکوي، او د ټولشموله، مشارکتي او ځواب ویونکي حکومتولۍ په اړه په ځایي کچه د برحاله چارواکو او ټولنو ترمنځ ډیالوګ تسهیلوي. مرستندویانو د بشري مرستو او بنسټیزو اړتیاوو د پروګرام جوړونې تمویل جاري ساتلی څو د ټولنې سیستمونه او معیشتونه وساتي. سیمې له برحاله چارواکو سره د سوداګرۍ او ترانزیت په څېر لومړیتوبونو په اړه په تعامل سره مهم نقش لوبولی.

۷۲. تر لسیزو جګړو وروسته، له هرې ډلې او توکم څخه افغانان مستحق دي چې د خپل راتلونکي په اړه د ګډ لید لوري پر بنسټ د افغانستان د فرهنګي زغم او ګډ ژوند پر دودونو متکي له یو بل سره پخلا شي. بشري حقونو او ټولشموله حکومتوالۍ ته درناوي باید دغه لید لوري پیاوړي کړي څو د تاوتریخوالي او بې ثباتۍ د راتلونکو دورو مخه ونیول شي. د ۲۰۲۱ کال په اګست د طالبانو له خوا اعلان شوې عمومي بخښنه او دغه راز د پخوانیو چارواکو د راستونې د کمیسیون فعالیتونه په دې برخه کې مثبت ګامونه ګڼل کېږي او باید لا پسې تقویه شي.

۷۳. د سولې پر لور پرمختګ د دې غوښتنه کوي چې سیاسي مخالفین له هغو تفرقو درس واخلي چې د اسلامي جمهوریت نظام یې کمزوری کړ، او د سیاسي تعامل په پار یو واقعي، متحد او آینده پالونکی وړاندیز جوړ کړي؛ او طالبان هم د سولې له پخوانیو تړونونو څخه چې د کافي شمولیت د نشتون له امله ناکام شول، عبرت واخلي. ملګري ملتونه د ملي ډیالوګ د یوه داسې بهیر ملاتړ ته چمتو دي کوم چې د جګړې ریښه ییز لاملونه حل کوي او د پایښت لرونکې سولې او ملي پخلاینې لپاره بنسټ ږدي.

۷۴. برحاله چارواکو پر بشپړ ملي قلمرو د عملي امنیت کنټرول ساتل جاري ساتلي. له دې سره سره اوس هم په افغانستان کې د بهرنیو تروریستي ډلو د شتون او له افغانستان څخه د وسلو د خپرېدو د خطرونو او په دې اړه جدي اندېښنې شته چې برحاله چارواکي تر کوم حده د دغو اندېښنو د حل لپاره اراده او توان لري. برحاله چارواکي په داسې حال کې چې د نړیوال قانون له مخې خپل مکلفیتونه رعایتوي، باید په امنیتي او سیاسي ډګرونو کې لا زیات کوټلي ګامونه پورته کړي لکه له سیمې او نړیوالې ټولنې سره له تروریزیم سره د مبارزې په ډیالوګ کې ښکیلېدل څو له دغو ګواښونو سره په مبارزه کې همکاري غښتلې شي.

۷۵. پر ولسي وګړو د هدفي بریدونو له امله افغانانو ته روان اوښتی زیان په ژور ډول اندېښمنوونکی دی. په ولسي سیمو کې پر ملکي اهدافو د لاس جوړ چاودېدونکو توکو وسیلو بریدونه له نړیوال قانون څخه سرغړونه ګڼل کې او باید زر تر زره ودرول شي. زه پر برحاله چارواکو غږ کوم چې د مناسبو محافظتي تدابیرو په عملي کولو سره په تېره بیا په عبادت ځایونو، ښوونیزو مرکزونو او له زیات خطر سره مخ ټولنو کې لکه د هزاره توکمو، د ټولو افغانانو د خوندي کولو مکلفیتونه مراعات کړي. له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي یوه تراژیدي او ولسي وګړو په تېره بیا تنکیو ماشومانو ته د زیان رسولو د مخنیوي وړ سرچینه ګڼل کیږي. برحاله چارواکي باید د ماین پاکۍ او په دې تړاو د پوهاوي لوړولو خپل د بشرپالنې د نړیوال قانون مکلفیتونه ترسره کړي.

۷۶. په داسې حال کې چې برحاله چارواکو په پنجشیر ولایت کې ادعا شویو بشري حقونو سرغړونو ته د رسیدګۍ په موخه د تحقیقاتي میکانیزمونو د جوړولو په لور ګامونه پورته کړي، خو دوي تر دې دمه د صحرایي وژنو، خپلسرو نیونې او توقیفونو، شکنجې او ناوړه چلند لپاره د حساب ورکولو په برابرولو کې پاتې راغلي. برحاله چارواکي باید د ټولو افغانانو د بشري حقونو د

ساتنې او ودې لپاره خپل مکلفیتونه ترسره کړي، چې سرغړونې په شفاف ډول وڅېړي او په راتلونکې کې د هغوي د بیا پېښېدو مخه ونیسي.

۷۷. د سوله ییزو لاریونونو د پاشلو لپاره د برحاله چارواکو د قوې کارول او د ژورنالستانو، رسنیو د کارکوونکو او د مدني ټولنې د فعالینو د خپلسرو نیونو او توقیفونو، تهدیدونو او ناوړه چلند له لارې د مدني فضا او بنسټیزو آزادیو محدودول د ژورې اندېښنې وړ دي. زه له برحاله چارواکو غوښتنه کوم چې د رسنیو، د مدني ټولنې د سازمانونو د خپلواکۍ او دغه راز د افغانانو د سوله ییزو غونډو د حقونو درناوي وکړي.

۷۸. افغان ښځې او نجونې نه باید تر شا پرېښودل شي. د هیواد د سیاسي او اقتصادي فضا په ټولو سکتورونو کې، په عامه ژوند کې د دوي مهم ګډون په افغانستان کې د سولې د اوږدمهالو توقعاتو د ترسیخ لپاره خورا مهم ګڼل کیږي. افغانستان باید د تبعیض، بېعدالتۍ، نابرابرۍ او معافیت پر وړاندې د نړیوالو اصولو، نورمونو او معیارونو له خپلو ژمنو سره سم عمل وکړي. دغه کار د دې غوښتنه کوي چې برحاله چارواکي د محرم او اسلامي حجاب حکمونه له سره وڅېړي او د هغوي توصیهيي او غیرالزامي ماهیت روښانه کړي، او همدارنګه د زده کړو ټولو کچو ته د نجونو لاسرسی، د ښځو استخدام، په حکومتولۍ او د هېواد د ورځني ژوند په نورو برخو کې د هغوي ګډون تسهیل کړي.

۷۹. عادلانه او بې طرفه عدلي سیستمونه د قانون واکمنۍ لپاره خورا اړین دي کوم چې په خپل وار د یوې سوله ییزې ټولنې بنسټیز عنصر ګڼل کېږي. د "حدودو" او "قصاص" د تطبیق په اړه د طالبانو د مشر له اعلامیې سره مل د برحاله قاضیانو او چارواکو له خوا د بدني سزاوو د کارونې راپورونه د عدالت د اجرا په اړه نورې جدي اندېښنې راپورته کوي. یوناما به له برحاله چارواکو سره خپله مدافعه جاري وساتي څو د تطبیق وړ حقوقي چوکاټ روښانه کړي او ډاډمن کړي چې له نړیوالو نورمونو سره په تطابق کې دی. یوناما به د حقوقي پوهاوي په وده او حقونو ته د خلکو د لاسرسي په برخه کې د وکیلانو د ښکیلتیا او په عدلي سکتور کې د ښځینه مسلکي کسانو شتون څوک چې عدالت ته د ښځو په لاسرسي په تېره بیا د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د قضیو په حل کې مهم رول لوبوي، هڅول جاري وساتي.

۸۰. د هغوي له هڅو سره سره، برحاله د زندانونو چارواکي له نړیوالو نورمونو سره په سمون کې له بندیانو سره د چلند حد اقل نورمونه نه پوره کوي، چې تر یوه بریده د منابعو د نشتون له امله دي. سیمه‌ییز او نړیوال سازمانونه، او نړیواله ټولنه هڅول کېږي چې د بندیانو د بنسټیزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د مالي مرستو پر زیاتولو غور وکړي، د خوړو، طبي، ښوونیزو او د جامو اړتیاوو د برابرولو، او همدارنګه توقیف ځایونو ته د روغتیایي او تعلیمي کارکوونکو د اعزام په ګډون.

۸۱. زه په افغانستان کې د بشري اړتیاوو له بېساري لوړو کچو څخه اندېښمن یم. د ژمي موسم رانږدې کېدل د افغانانو د زغم وړتیا تر خپل وروستي حده رسوي په داسې حال کې چې اقلیمي وړاندوینې د لانینا هغې پدېدې تاییدوي چې د درېو پرله‌پسې کلونو لپاره پېښېږي، کوم چې د درېیم پرله‌پسې کال لپاره د وچکالۍ ډوله شرایط غځوي، د اوبو بحران لا پسې ناوړه کوي او دوديزو معیشتونو ته د بېرته ستنېدو مخه نیسي. دغه وضعیت په عامه ژوند کې د ښځو د ګډون پر وړاندې د ملا ماتوونکو محدودیتونو له امله لا پسې ناوړه شوی، چې د نیمه یې نفوس لپاره د اضافي زیانمنتوب بېساري کچې رامنځته کوي.

۸۲. د بشري مرستو د غبرګون د امریکایي ډالرو د ۴.۴ بیلیوني پلان د ۲.۰۴ بیلیونه امریکایي ډالرو په کموالي سره یوازې ۵۴.۱ سلنه تمویل شوی، سره له دې چې په مارچ کې د ۲.۴ بیلیونه امریکایي ډالرو ژمنې شوې وې. سره له دې چې په ۲۰۲۲

کال کې د بشري مرستو غبرګون پراختیا تاریخي کچې ته رسېدلی وه، د هغو سیمو په ګډون چې پخوا د لاسرسي وړ نه وې، د بودجې کمښت د اړتیاوو په پوره کولو کې زموږ وړتیا محدودوي. زه له ډونرانو غوړام چې خپل ملاتړ بیا نوي کړي څو د ژوند-ژغورنې اړینې مرستې د ژمي څخه مخکې زیاتې او وړاندې شي، او همدارنګه د بنسټیزو خدمتونو او د ټولنیزو سیستمونو د ساتنې لپاره خپل ملاتړ پراخ کړي د کومو له لارې چې بشري مرستې وړاندې کېږي. د بشري مرستو د ټولنې د پاتې کېدو او د ژوند ژغورنې مرستو د وړاندې کولو دوامداره وړتیا په انعطاف‌پذیرو مالي سرچینو، فعالو مالي سیستمونو او د مرستې د کارمندانو په تیره بیا د ښځینه کارمندانو، د خوندیتوب په تضمین او د بشري مرستو په یوه اصولي غبرګون پورې تړلې ده. ملګري ملتونه د بشري فعالیتونو د تطبیق په اړه له برحاله چارواکو سره د ډیالوګ جاري ساتلو ته ژمن دي.

۸۳. که څه هم برحاله چارواکي توانېدلي چې خپلې ادارې له هغو عوایدو څخه چې دوي راغونډ کړي تمویل کړي، خو سیاسي، مالي او ډیپلوماتیکو ننګونو د اقتصادي بیا رغونې هڅې محدودې کړي. نن ورځ د افغانانو یو زیاتېدونکی شمېر د دوي د بقاء د یوازینۍ سرچینې په څېر پر بشري مرستو متکي دي. خو له دې سره سره اقتصاد داسې یو ډګر دی چیرې چې برحاله چارواکي، اقتصادي فعالین او نړیوال شریکباڼي کولی شي باور جوړ کړي، کاري فرصتونه رامنځته کړي، ښځې ځواکمنې کړي، د چاپېریالي مقاومت وړتیا لوړه کړي او سیمه‌ییز اتصال پیاوړی کړي. دغه کار په اصل کې په برحاله چارواکو پورې تړلی چې د ښځو د حقونو په اړه له ارتجاعي پالیسي ګانو لاس واخلي او د خپلې بودجې په اړه شفافیت وړاندې کړي. همدارنګه زه له ډونرانو غوښتنه کوم چې د کرنې سکتور او کوچنیو زیربناوو په ګډون د بنسټیزو بشري اړتیاوو د ملاتړ لپاره د تخنیکي مرستو پراخه ساحه تمویل کړي.

۸۴. ملګري ملتونه له برحاله چارواکو سره د افغان وګړو په ګټه پر سیاسي، بشري او اقتصادي لومړیتوبونو دوامدار تعامل ته ژمن دي. خو بیا هم دا د انکار وړ نه ده چې د افغانستان او نورو غړو دولتونو ترمنځ د نورمال شویو اړیکو په لور پرمختګ په دواړو خواوو کې د موجوده بې باوریو له امله خپل تحرک له لاسه ورکړی. ټولې خواوې باید د متقابل تور لګولو او کلکو دریځونو څخه لاس واخلي، او په درناوي، صبر او واقع‌بینۍ سره په داسې اجنډا کې ښکېل شي چې د افغانانو راتلونکی یې د پاملرنې په مرکز کې وي.

۸۵. زه په افغانستان کې زما د ځانګړي استازې روزا اوتنبایوا تر مشرۍ لاندې د ملګرو ملتونو له ټولو کارمندانو او همکارو غیر دولتي مؤسسو څخه په خورا ننګوونکو شرایطو کې او د افغان وګړو لپاره په خورا ننګوونکی وخت کې د هغوي له دوامدارې فداکارۍ او خدمت څخه د زړه له تله مننه کوم.

---